# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af


چهارشنبه د ۱۳۹۹ د چنگاښ ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د جولای اتمه | ۵٦٤مه ګڼه


2 017550 139621

## کتاب

۴ مخ

### مه وېرېږه




د نامتو امریکایي ارواپوهې سوزان جیفرز دغه کتاب «مه وېرېږه» یو نړیوال شهکار دی، چې د نړۍ په سلو هېوادونو کې تر درېو میلیونو زیات، تر دېرشو په ډېرو ژبو خپور شوی او دا دي په دې وروستیو کې د باسط واحدي له لوري هم په پښتو شو.

## کرنې ریاست: ارزګان کې پر ۸۰۰ مالدارو کورنیو د لبنیاتو د پروسس لمریز دستګاوې وېشل شوې



د ارزګان د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، چې د دغه ولایت پر ۸۰۰ مالدارو کورنیو د لبنیاتو د پروسس لمریزې دستګاوې وېشل شوې دي.

د دغه ولایت د کرنې رییس انجنیر احمدشاه خیري ویلي، چې د ارزګان پر ۸۰۰ مالدارو کورنیو د لبنیاتو د پروسس د لمریزو دستګاوو د وېش ټولیز لګښت ۱۰ میلیونه او ۳۲۰ زره افغانۍ دی، چې د هندوستان هېواد د «HICPD» موسسې په مالي همکارۍ پر مالدارو کورنیو وېشل شوي دي.

خیري ویلي، چې په وېشل شویو توکو کې هر مالدار ته یوه پایه ۱۰۰ واټه لمریزه ښیښه، یو ۷۰ امپیره بټرۍ، د شیدو د پروسس ۲۰ لیټره ماشین او نور اړین توکي شامل دي.

د ارزګان د کرنې رییس زیاته کړې، چې تر دې وروسته به له یادو مرستو څخه برخمن شوي مالداران د خپلې مالدارۍ محصولات په پاک او صفا ډول پروسس کوي او بازارته به یې په ښه کیفیت وړاندې کوي.

# افغان سوله او نړیواله اجماع؛

## پاکستان او چین: طالبان دې تاوتریخوالی کم او د باور فضا پیاوړې کړي



۳

### سیمه د سولې په اړه د افغان حکومت د دریځ ملاتړ کوي؟

۲ مخ

### په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ واقعیتونه، ننګونې او فرصتونه

۲ مخ

### کابل ښار او د زلزلو ګواښ!

۳ مخ

## پوهنې وزارت: څه موده نور به هم په حضوري ډول زده کړې نه کېږي

د پوهنې وزارت وایي، کابینې پرېکړه کړې چې له کرونا ویروس څخه د مخنیوي لپاره به په ښوونځیو کې څه موده نور هم په حضوري ډول زده کړې نه کېږي، خو په غیرحضوري ډول به دوام ومومي.

دغه وزارت په یوه خبرپاڼه کې دغه څرګندونې کړې، خو په اړه یې نور جزیات نه دي ورکړي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې د پوهنې وزارت له کووېډ- ۱۹ ناروغۍ سره د مقابلې په بهیر کې د زده کړو د دوام لپاره درې ګونې ستراتېژۍ لکه ځاني زده کړې، غیرحضوري زده کړې او په کوچنیو ټولګیو کې زده کړې پلان کړې او دغه پلان به د روغتیا له وزارت سره له مشورې او د ولسمشرۍ ماڼۍ له سپارښتنو وروسته پلې شي.

سرچینه زیاتوي: «وزارت د ځاني زده کړو، ټلوېزیون، ویب سایټ، موبایل اپلېکېشن او له نورو لارو د تعلیمي خدماتو عرضه ژر پیلوي او په عین حال کې د کوچنیو ټولګیو او تجمعاتو بدیل ته روغتیایي لارې پیدا کوي.»

د پوهنې وزارت لیکي چې د کرونا ویروس له امله د لګېدلو بندیزونو له پای ته رسېدو وروسته حالت ته یې هم بېړني تدابیر سنجولي، څو د زده کوونکو تېر شوي درسونه په معقوله بڼه جبران کړي.

دغه وزارت د ښوونځیو زدهکوونکو له کورنیو هیله کړې چې د ممکنو بدیلونو له لارې د خپلو اولادونو په زده کړو کې ورسره مرسته وکړي.

## عامې روغتیا وزارت: په ټول هېواد کې د کرونا ویروس د مړو شمېر ۹۲۰ تنو ته ورسېد




۲ مخ

## معنوی: فهرست نامزد وزیران در آینده نزدیک به ارگ سپرده می‌شود




منابع نزدیک به عبدالله عبدالله رئیس شورای مصالحۀ ملی می‌گوید، فهرست نامزد وزیران پیشنهادی از جانبِ آن‌ها تکمیل شده و در آیندۀ نزدیک به ریاست جمهوری افغانستان سپرده خواهد شد.

فضل احمد معنوی از نزدیکان داکتر عبدالله به رادیو آزادی گفته است، در معرفی فهرستِ نامزد وزیران پیشنهادی مشکلِ جدی وجود ندارد: «لیستَ تکمیل است، قرار بود که یکی دو روز پیش شریک ساخته شود، اما بنابر مصروفیت طرفین چنین نشد. به زودی فهرست تسلیم داده می شود.» اما هنوز خود آقای عبدالله در این مورد اظهار نظر نکرده است.

قبل از این محمد اشرف غنی رئیس جمهوری افغانستان گفته بود، ارگ در معرفی نامزد وزیران کابینۀ جدید مشکل ندارد. به گفتۀ او جانبِ عبدالله عبدالله تا اکنون نامزد وزیران پیشنهادی را معرفی نکرده است. رئیس جمهور غنی در مراسم تحلیف تعهد کرد که به سیستم سرپرستی در وزارتخانه‌ها پایان می‌دهد، اما اینک با گذشت حدود چهار ماه هنوز هم وزارت‌های کلیدی مثل دفاع، داخله و خارجه را سرپرستان اداره می کنند.

ولسی جرگۀ افغانستان هفتۀ گذشته گفت که حکومت باید پیش از تعطیلات تابستانی نمایندگان، نامزد وزیران را معرفی کند. طبق توافق سیاسی ماه می میان آقایان غنی و عبدالله دو جانب در کابینۀ جدید به گونۀ پنجاه پنجاه سهم خواهند شد.


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## دریــځ

## سیمه د سولې په اړه د افغان حکومت د دریځ ملاتړ کوي؟

بهرنیو چارو وزارت ویلي چې له پاکستان او چین سره یې د افغان سولې په تړاو غونډه کړې او دواړو هېوادونو د حکومت له لوري د بندیانو خوشې کول ستایلي، له طالبانو یې د تاوتریخوالي د کمولو غوښتنه کړې او د افغانانو په مشرۍ او مالکیت یې د سولې د خبرو ملاتړ کړی دی. حکومت وایي چې هڅې یې روانې دي، څو د سولې لپاره سیمهییزه اجماع پیاوړې کړي او له همدې امله څو مهمې غونډې جوړوي.

د حکومت د سیمهییزې اجماع هڅې د څه لپاره دي او سیمه د سولې په پروسه کې د کوم دریځ ملاتړ کوي؟

حکومتي مشران هڅه کوي چې د سیمې د هېوادونو ملاتړ را خپل کړي او د سولې په برخه کې خپل دریځ پیاوړی کړي. له همدې امله یې له سیمه ییزو هېوادونو سره د غونډو نوې لړۍ پیل کړې ده. اوس په ټوله سیمه کې یوازې هند د سولې په تړاو د افغان حکومت د دریځ ملاتړ کوي او ایران هم له امریکا سره د ستونزو له امله یو څه متفاوت دریځ لري. د سیمې نور ټول هېوادونه د افغانستان د حکومت له دریځ سره ډېر جوړ نه دي او آن د حکومت کړنو ته د سولې په برخه کې د خنډ جوړولو په سترګه ګوري. د سیمې هېوادونه چې په افغان سوله کې خپلې ګټې ګوري، فکر کوي چې حکومت نه غواړي چې د سولې روانه پروسه بریالۍ شي. له همدې امله دوی د افغان حکومت د دریځ ننګه نه کوي.

اوس چې حکومت ویلي، په وروستۍ غونډه کې پاکستان او چین د بندیانو د خوشې کولو ملاتړ کړی، دا سمه ده، خو دا هېوادونه غواړي چې پاتې بندیان هم خوشي شي، هغه چې حکومت یې نه غواړي. د دې تر څنګ بهرنیو چارو وزارت وایي چې سیمه د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې د خبرو ملاتړ کوي، دا هم سمه ده، خو دا هغه مانا نه لري چې حکومت یې ترې اخلي. حکومت خلکو ته ښيي چې ګواکې سیمه د هغو خبرو ملاتړ کوي چې مشري او مالکیت یې د افغان حکومت په لاس کې وي، خو د سیمې د هېوادونو موخه دا ده چې په دې خبرو کې باید مشري او مالکیت د افغانانو وي او بهرنیان باید د افغانانو لپاره خپله پرېکړې ونه کړي، بلکې خپله افغانان پرېږدي چې د سولې په تړاو پرېکړې وکړي. دا هم سمه ده چې د سیمې هېوادونه د تاوتریخوالي کمښت غواړي، خو ورسره سم د بندیانو خوشې کول او د بین الافغاني خبرو د پیل غوښتنه هم کوي.

د سولې لپاره د سیمې د هېوادونو ملاتړ او اجماع ډېره مهمه ده؛ له همدې امله پکار ده چې له دې اجماع د سولې لپاره پوره کار واخیستل شي. ښکېل اړخونه د دې پر ځای چې د خپل دریځ د پیاوړي کولو او خپلو اهدافو لپاره د سیمې د هېوادونو دریځونه جوړ کړي، ښه ده چې د افغانستان د سولې او ثبات لپاره هڅې وکړي او داسې سولې ته لاره هواره کړي چې هر افغان پکې د عزت او امن خاوند شي.

# په افغانستان کې د اسلامي بانکوالۍ واقعیتونه، ننګونې او فرصتونه

لیکنه: سراج یاسیني

لومړۍ برخه:

په نړۍ کې معاصره اسلامي بانکوالي له کابو پنځه لسیزو راهیسې پیل شوې ده، خو تېرې دوه لسیزې یې د پراختیا له اړخه خورا زرینې وې. په دې موده کې افغانستان هم د اسلامي بانکوالۍ پیل وکړ، اساسي قانون یې اسلامي قوانین الزامي کړل، د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ مقررات جاري کړل او د اسلامي بانکوالۍ د نظارت څانګه یې پرانیسته. یو شمېر بانکونو اسلامي کړکۍ جوړې کړې او یو بشپړ اسلامي بانک هم فعالیت پیل کړ.

پخوا چې معاصرې اسلامي بانکوالۍ خپرې کولې یو شمېر کسانو ګوتنیونه کوله چې آیا دا به د ټولنې معاصرو بانکي اړتیاوو ته ځواب و ویلی شي او که نه؟ خو دا مهال چې په نړۍ کې تر ۱۴۰۰ زیات اسلامي بانکونه او یا ورسره تړلي مالي اورګانونه فعالیت کوي، په نړۍ کې د اسلامي بانکونو شتمني دوه نیم ټریلیونه امریکایي ډالرو ته رسېږي. د شرعیاتو ۱۲۰۰ علماء اسلامي بانکونو ته مشورې ورکوي، ٦٨٨ پوهنتونونه او ښوونیزې اداري د اسلامي بانکوالۍ پروګرامونه لري او ۴۵ هېوادونه د اسلامي بانکوالۍ قوانین لري چې مخکښ یې مالیزیا، بحرین، متحده عربي امارات، او سعودي عربستان دي. نو له دومره پرمختګ وروسته افغانان او افغان دولت یواځې دا لار لري چې خپل بانکي سیستم په بشپړه توګه اسلامي کړي.

په افغانستان کې اسلامي بانکوالۍ د پرمختګ په اړه یو شمېر واقعیتونه او ننګونې هم شته چې که په فرصتونو بدلې نه شي، د اسلامي بانکوالۍ پرمختګ ټکنی کوي او د اوسني بانکي سیستم څخه بشپړ اسلامي بانکي سیستم ته په اوښتو کې خنډ کېږي. لاندې د دې واقعیتونو، ننګونو، او فرصتونو یادونه کوو.

**لومړی- اساسي قانون**

د افغانستان اساسي قانون په درېیمه ماده کې په صراحت لیکي چې «په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د سپېڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.» نو سودي بانکوالۍ ته (چې متعارفه بانکوالي هم ورته وایي) اجازه ورکول، وړاندې کول او له دې لارې خپل معاملات ترسره کول د اسلام د معتقداتو او احکامو صریح مخالفت او یو غیر قانوني عمل دی.

د افغانستان اساسي قانون په حکومت او رعیت دا لازم ګرځولي دي چې اسلامي بانکوالي به رامنځته کوي. د افغانستان اساسي قانون په پنځمه ماده کې لیکي چې د «اساسي قانون او نورو قوانینو د حکمونو تطبیق د دولت له اساسي وظایفو څخه دي» او د اساسي قانون د شپږ پنځوسمې مادې له مخې «د اساسي قانون د حکمونو پیروي، د قوانینو اطاعت ... دافغانستان د ټولو خلکو وجیبه ده.» په دې اساس اساسي قانون د اسلامي بانکوالۍ د غوړېدو او پراختیا لپاره یو مهم او بې ساری فرصت رامنځته کړی دی. په دولت یانې اجرایه او مقننه او قضائیه قواو، بازار او رعیت لازمي دي چې له اساسي قانون څخه سرغړونې ته نور د پای ټکی کېږدي او د افغانستان بانکي او له هغې برسېره ټول مالي او اقتصادي سیستمونه په بشپړه توګه اسلامي کړي.

نو ډېره ضروري ده چې د اسلامي بانکوالۍ قانون زر تر زره چمتو شي او ملي شورا ته وړاندې، منظور، او تطبیق شي.

**دویم- د بانکوالۍ قانون**

«د افغانستان د بانکدارۍ قانون» په ۱۳۸۲ هجري لمریز کال کې د لنډمهالې دورې ولسمشر د یو تقنیني فرمان له مخې لاسلیک او نافذ کړ.

وروسته بیا دا قانون د یو څه توپیر سره چې د اسلامي بانکوالۍ لپاره یو فصل هم پکې شامل دی، ولسمشر په ۱۳۹۴ هجري لمریز کال کې لاسلیک او د تقنیني فرمان له لارې نافذ کړ. په تقنیني فرمان کې راغلي دي چې «د عدلیې وزیر او په پارلماني چارو کې د دولت وزیر مؤظف دي چې دغه فرمان د ملي شورا د لومړنۍ غونډې د جوړېدو له نېټې څخه د دېرشو ورځو مودې په ترڅ کې هغې شورا ته وړاندې کړي.» د حکم سره سم قانون ملي شورا ته وړاندې شو خو تر اوسه پرې په ملي شورا کې بحث نه دی شوی. د قانون لومړۍ بڼه هم د ملي شورا له بحث او پرېکړې پرته نافذه ده او دویمه بڼه یې هم په همدې ډول.

ستونزه دا ده چې په قانون کې متعارفه او اسلامي بانکوالي دواړه تقنین شوي دي. په بل عبارت قانون اسلامي او سودي بانکي سیستمونو ته څنګ په څنګ د فعالیت اجازه ورکړې ده. ملي شورا پوهېږي چې هر ډول سودي سیستم منل ورته له اساسي قانون سرغړونه ده.

د افغانستان بانک که د اسلامي بانکوالۍ جلا قانون ملي شورا ته وړاندې کړي نو د متعارفې بانکوالۍ قانون به یې د ولسمشر په تقنیني فرمان او د اسلامي بانکوالۍ قانون به یې د ملي شورا په پرېکړه نافذ کړي وي، چې دولت ته یوه قانوني او اخلاقي ننګونه ده.

بله جدي اندېښنه دا ده چې که چېرته د اسلامي بانکوالۍ جلا قانون د ملي شورا لخوا ومنل شي او نافذ شي او د متعارفې بانکوالۍ قانون لغوه شي او یا هم ونه نګول شي نو فورا د سودي سیستم څخه اسلامي سیستم ته اوښتل ناشوني دي. دا کار ښایي لسو یا پنځلسو کلونو وخت ته اړتیا ولري چې ټول بانکونه او بانکي سیستم اسلامي ته واوړي، د افغانستان بانک او بانکونه باید چې کدرونه وروزي او د اقتصاد دا حیاتي سکتور په سالمه توګه پر مخ یوسي.

سره د دې چې د ملي شورا لخوا د بانکوالۍ قانون نه منظورېدل یوه قانوني ننګونه ده، خو دافغانستان بانک د اوسني قانون تر چتر لاندې اسلامي بانکوالۍ ته اجازه ورکړې او د ودې مخه یې نه ده نیولې. د افغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ د نظارت اداره لري، یو شمېر بانکونو ته یې د اسلامي بانکوالۍ کړکۍ او یو بانک ته یې د بشپړ اسلامي بانک فعالیت اجازه ورکړې ده. د اسلامي بانکوالۍ د ودې او بهتره نظارت لپاره یې بشپړ مقررات هم جاري کړي دي.

دا قانوني ننګونه په فرصت داسې بدلېدای شي چې دافغانستان بانک د اسلامي بانکوالۍ جلا قانون ملي شورا ته وړاندې کړي چې بشپړ اسلامي سیستم په کې تقنین شوی وي او اوسنی سودي سیستم په کې د معینې مودې لپاره د اوسني متعارفې بانکوالۍ قانون په چوکاټ کې د عبوري سیستم په بڼه ومنل شي. په عبوري موده کې به هم بانکونه او هم مرکزي بانک مشخص مکلفیتونه او ضرب الاجلونه ولري چې خپل کارونه بشپړ اسلامي کړي. دا شرعا هم د سیستم د اسلامي کولو بهترینه لاره ده، ځکه په تدریجي بدلون سره به د شریعت د احکامو د تدریجي تطبیق اصل په نظر کې نیول شوی وي، د ولس کاروبار (مصالح العباد) به نه زیانمنېږي، اقتصاد به ضربه نه خوري، مالي سیستم به پایدار وي، او ملي شورا به اساسي قانون هم په بهتره شکل تطبیق کړی وي.

**درېیم- د تکافل قانون**

تکافل یا اسلامي بیمه د معاصر اسلامي مالي سیستم یوه بله مهمه برخه ده. تکافل د مالیې وزارت په تشکیل کې د بیمې د چارو ریاست پورې اړه لري. د بیمې د چارو ریاست دا مهال د تکافل د حقوقي چوکاټ په چمتو کولو کار کوي چې د تکافل قانون، د تکافل مقررات او طرزالعملونه په کې شامل دي. هیله ده په نږدې کې دا قانون له ملي شورا څخه منظور او نافذ شي چې د هغې پر بنسټ به په هېواد کې د تکافل شرکتونه جوړول او خدمات وړاندې کول ممکن شي.

ډېره اړینه ده چې د تکافل د حقوقي چوکاټ له جوړېدو وروسته د بیمې موجوده شرکتونه وهڅول شي چې ژر تر ژره د تکافل کړکۍ پرانېزي او پانګوال وهڅول شي چې د تکافل شرکتونه جوړ کړي او بازار ته د تکافل محصولات په ښه کیفیت وړاندې کړي چې د خلکو اړتیاوې پوره شي.

**څلورم- د صکوک قانون**

په خارجي مرستو د اتکا د کمولو او داخلي او په بهر کې د خصوصي سکتور د سرچینو څخه د استفادې په موخه دولت د بودیجوي کسر او د زیربنایي پروژو د تمویل لپاره صکوک جاري کولای شي. د خصوصي سکتور شرکتونه هم کولای شي د صکوکو د جاري کولو له لارې خپله بودیجه تمویل کړي. له بانکونو، پانګوالو، او ولس څخه د صکوکو په مقابل کې د پیسو راغونډول او هغوی سره عاید شریکول د دولت لپاره اغېزمنه لاره ده. خو دا مهال چې افغانستان د صکوکو جاري کولو حقوقي چوکاټ نه لري نو د صکوکو حقوقي چوکاټ رامنځته کول ضروري دي.

د مالیې وزارت او د افغانستان بانک د صکوکو د حقوقي چوکاټ د جوړولو مسوولیت سره ویشلی شي خو د دولت لپاره به صکوک یوازې د مالیې وزارت جاري کوي ځکه چې د حکومت د بودیجې اداره کول د مالیې وزارت دنده ده. د صکوکو د جاري کولو لپاره ضروري ده چې د صکوکو قانون جوړ او ورسره یو شمېر نور قوانین تعدیل او یا هم د صکوکو بشپړ حقوقي چوکاټ د صکوکو په قانون کې رامنځته شي.

ننګونه دا ده چې اوس دولت باید د صکوکو د قانون جوړولو تصمیم ونیسي او مالیه وزارت، عدلیه وزارت، دافغانستان بانک، او یو شمېر نورې اداري په دې برخه کې هماهنګي ولري. په نږدې کلونو کې ترکیه، کازاخستان، اندونیسا، او یو شمېر نورو هېوادونو (چې لکه افغانستان د مدني قانون حقوقي سیستم تطبیقوي) د صکوکو قوانین وضع کړي دي چې له تجربو یې افغانستان استفاده کولای شي.

**پنځم- بانکي محصولات او زېربنا**

په هېواد کې اسلامي بانکونه د دې ننګونې سره مخ دي چې له خلکو ډیپازیټ اخلي خو بېرته د دې پیسو د پانګونې لپاره اړین محصولات نه لري. مثلا د افغانستان بانک له متعارفو بانکونو څخه یوه اندازه پیسې د کاپیټل نوټ په نامه د یو پروګرام له لارې اخلي او ټکټانه یا سود پرې ورکوي خو د اسلامي بانکوالۍ لپاره بیا د کاپیټل نوټ اسلامي بڼه نه لري.

همدا راز په عمومي توګه بانکي سکتور ډېر اسلامي محصولات لکه د جایداد او کور تمویل، د ګاډو تمویل، شرکتونو ته په شریکه تمویل ورکول، د سترو پروژو تمویل، د سوداګرۍ د تمویل ټول محصولات یا نه لري او که لري یې نو په محدوده اندازه دي. نو ځکه د اسلامي بانکونو سره پیسې جمع کېږي خو د پانګونې لپاره یې کافي لارې چارې نه لري.

دا د بانکي سکتور لپاره یوه عمومي ننګونه ده چې اوارول یې په څو برخو کې زیربنا جوړول غواړي. مثلا که دولت د بودیجې د کسر د جبران لپاره او یا هم د پروژو د تمویل لپاره صکوک جاري کړي نو اسلامي بانکونه کولای شي چې د دولت په صکوک کې سرمایه ګذاري وکړي. په دې ترتیب به د مالیې وزارت د پانګونې په برخه کې اسلامي بانکونو ته یو فرصت رامنځ ته کړي.

همدا راز که یو بانک وغواړي چې د جایداد او یا کور تمویل پیل کړي نو اسلامي بیمې یا تکافل ته اړتیا ده چې باید په بازار کې وي چې مشتري وکړای شي کور او ژوند بیمه کړي او د بانک د کریډیت خطر راکم کړي. نو د مالیې وزارت د بیمو د ریاست دنده ده چې د تکافل حقوقي چوکاټ رامنځته کړي او د بیمې د شرکتونو مسولیت دی چې باید د کور او عمري اسلامي بیمې بازار ته وړاندې کړي.

یا مثلا دافغانستان بانک باید د کاپیټل نوټ اسلامي بڼه د صکوک په بڼه بانکونه ته عرضه کړي چې د هغوی اضافي پیسې ترې واخلي او حلال عاید پرې ورکړي.

یوه بله چاره چې ضروري ده هغه دا ده چې اسلامي بانکونه باید په شریکه کار وکړي او محصولات جوړ کړي. په دې طریقه به دوی ته اسانه وي چې د محصولاتو د جوړولو پوهه سره شریکه کړي، مسولیتونه یې پخپل منځ کې وویشي، او مصارف یې په شریکه ورکړي.

**شپږم- له بهرنیو بانکونو سره اړیکې**

افغاني بانکونه د بهرنیو بانکونو سره د معاملاتو د ترسره کولو یا کورسپانډنټ پراخه اړیکې نه لري. ډېر بهرني بانکونه د یو شمېر افغاني بانکونو سره ځکه تعامل نه کوي چې ګني افغاني بانکونه د کمپلاینس یا د قوانینو د بشپړ تطبیق اطمنان نړیوالو بانکونو ته نشي ورکولای. مثلا افغاني بانک باید د کمپلاینس قوي فرهنګ ولري او له هغو خلکو ډیپازیټ وانخلي چې د ترهګرۍ، مخدره موادو، او نورو غیر قانوني لارو یې پیسې ترلاسه کړې وي. یا مثلاً د بانک څښتنان باید د بانک په کارونو کې مداخله ونه کړي. دا چې یو شمېر افغاني بانکونه د نړیوالې بانکوالۍ معیارونه نه شي پوره کولای، نو ځکه نړیوال بانکونه هم ترې ځان ساتي او تعامل نه ورسره کوي. که څه هم دا ننګونه عامه ده او متعارف بانکونه هم ورسره مخ دي خو د اسلامي بانکوالۍ په رشد هم منفي اغېز لري.

د دې ننګونې د حل لپاره دا ضروري ده چې دافغانستان بانک په بانکونو خپل نظارت لا جدي کړي. بانکونه د کمپلاینس پرمختللی فرهنګ تطبیق کړي او د حکومت سره یو ځای کار وکړي چې د دیپلوماتیکو لارو د نورو هېوادونو د مالي ادارو سره وغږېږي، نړیوالو بانکونو ته د کمپلاینس په برخه کې اطمنان ورکړي چې د افغاني بانکونو نړیوالې اړیکې پراخه شي.

د دې اړیکو د پراختیا په نتیجه کې به د پیسو انتقال هم اسانه شي او د بیرون نړۍ سره به د افغانانو سوداګري هم وده وکړي. اسلامي بانکونه به وکړای شي چې د نړیوالې سوداګرۍ لپاره ښه محصولات سوداګرو ته وړاندې کړي.

**دوام لري...**

## د خلیلزاد وروستی سفر او پر اقتصادي موضوعاتو تمرکز؛

# امریکا څه تر لاسه کول غواړي؟

لیکنه: مشتاق رحیم

زلمی خلیلزاد دا ځل د سولې تر څنګ پر اقتصادي موضوعاتو هم غږېدلی دی. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد له یوې لنډې دمې وروسته، د جون میاشت په وروستیو کې سیمې ته سفر وکړ. نوموړي په دې سفر کې د طالبانو او افغان حکومت تر څنګ له مرکزي آسیا، قطر او پاکستاني چارواکو سره هم سلا مشورې وکړې.

د بحثونو په لړ کې د سولې اړوند د معمول خبرو اترو تر څنګ یوه موضوع چې تر ډېره بریده نوې او متبارزه وه، هغه پس له سولې د افغانستان لپاره اقتصادي برنامه او سیمه ییزه اقتصادي همکاري وه.

که څه هم امریکا په ۲۰۰۱ ز کال کې افغانستان ته تر راتګ را وروسته په سیمه ییزه اقتصادي همکارۍ کې ډېر کار کړی، خو د سولې په روان بهیر کې ښایي دا لومړی ځل وي چې په دې اړه دومره څرګند، پراخه او له ټولو اړخونو سره بحث کیږي.

په داسې حال کې چې امریکا له طالبانو سره د سولې بهیر د پیل په تړون کې له افغانستان څخه د وتلو ژمنه کړې، د اقتصادي پراختیا او همکارۍ بحثونه افغانستان او سیمې لپاره ډېر پراخ پیغامونه لري.

زلمي خلیلزاد د خپل سفر د دوحې برخې په پای کې خبر ورکړ چې د قطري له مشرانو سره یې پس له سولې په افغانستان کې د همفکره ملګرو هېوادونو سره په شریکه پر پراختیایي پروژو د کار په اړه بحث کړی.

د خلیلزاد دا خبره د شخړې افغان اړخونو ته دا څرګند پیغام لري چې که د سولې بهیر په بریالۍ توګه مخ ته لاړ شي، نو امریکا چمتو ده چې د کشالې اړخونو ته د سولې عوض (Peace Dividend) ورکړي.

د عصري شخړو په تاریخ کې د سولې عوض ورکول یو معمول دی او ډېری وخت د سیاسي او اقتصادي ملاتړ بڼه لري.

له دې سره هممهاله، د زلمي خلیلزاد په څرګندونو کې دا پیغام هم نغښتی چې امریکا به لکه د نویمې لسیزې، پس له سولې افغانستان یوازې نه پرېږدي او له دې هیواد سره به مرسته کوي چې د پایداره سولې پر مټ هر اړخیز ټیکاو ته ورسیږي.

دا په ټوله کې د امریکا لخوا د افغان اړخونو د باورونو د ګټلو او هغوی ته د یو همکار هیواد په توګه د ځان وروپېژندلو یوه جدي هڅه ده.

د مرکزي اسیا هېوادونو ته د خلیلزاد پیغام:

خلیلزاد له افغان چارواکو او طالبانو سره له سولې وروسته پر اقتصادي ودې او ګټو غږېدلی دی.

بلخوا زلمی خلیلزاد مرکزي آسیا ته هم د باور ورکولو هڅه کوي چې ګواکې د دوی هغو جیوستراتیژیکو ژمنو ته چې دغه سیمه د روسیې له انحصار او د چین له پراخېدونکې اغېزې خلاصوي، لا پر ځای ده.

په ۲۰۰۱ ز کال کې سیمې ته له راتګ څخه امریکا په دې تکل کې وه چې د مرکزي آسیا اقتصاد د افغانستان له لارې له سویلي آسیا سره وتړي.

په دې تکل کې امریکا یوه خوا د وریښمو نوې لار، کاسا۱۰۰۰ او تاپي په شان پروژو ابتکار پیل کړی او بلخوا یې د لاجوردو د لارې په مرسته د سیمې سوداګرۍ شبکې د جوړېدو هڅو ملاتړ کړی دی.

د دې تکل یوه بله ستراتیژیکه موخه دا هم ده چې د ایران لپاره په سویلي آسیا کې د انرژۍ په بازار کې سیالان پیدا کړي.

خو په دې ستراتیژۍ تر اوسه امریکا د دوو دلیلونو له کبله هغه ډول چې لازمه ده، عملي ګامونه نه دي پورته کړي.

لومړی دا چې واشنګټن نه غوښتل له مسکو سره په دې اړه په تقابل کې ولوېږي او خپلې چارې یې سوکه سوکه مخ ته وړلې.

له بلې خوا دغه ډول برنامو سترې مالي پانګې ته اړتیا درلوده. امریکا یوازې د هغو پروژو مالي ملاتړ کوي چې د دې امکان ولري چې پانګه یې د امریکایي شرکتونو په مرسته بېرته کور ته راشي او یا هم مرسته اخیستونکي هیواد کې خوندي پاتې شي.

واشنګټن په دغو پروژو کې دا دواړه ګټې نه لیدې چې له امله یې ورباندې له ګړندي کار څخه ډډه کوله.

د منځنۍ اسیا هېوادونه په افغانستان کې د توندلارو وسله والو ډلو له فعالیته وېره لري.

له همدې کبله امریکا انتظار و ایست چې د منځنۍ آسیا له هیوادونو سره په کراره مخ ته تګ سره داسې وخت ته تم شي، چې دا هیوادونه پخپله چمتو شي څو د سیمه ییز اتصال پروژو خرڅ ورکړي.

مرکزي آسیا د شوروي اتحاد له ماتېدو وروسته او په ځانګړې توګه سیمې ته د امریکا له راتګ راهیسې د خپل داخلي امنیت لپاره تل په امریکا تکیه کړې ده.

امریکا او منځنۍ آسیا د دغو همکاریو لپاره د سي پنځه جمع یو (C5+1) چوکاټ هم را منځ ته کړی.

منځنۍ آسیا په افغانستان کې له راټوکېدونکیو توندلارو خوځښتونو څخه جدي وېره لري او له دې کبله په افغانستان کې له هرې هغې ډلې سره همغږۍ او ګډ کار ته چمتو ده، چې نړیوالو قوانینو ته درناوی کوي.

دا چې د افغانستان د سولې بهیر د برې او ناکامۍ تر منځ پر غځېدلې نرۍ کرښه باندې مزل کوي، امریکا منځني آسیا ته پیغام ورکوي چې که د سولې له روان بهیر سره مرسته وکړي، نو په اوږدمهال کې د هغوی امنیت ته پیښ ګواښونه له منځه ځي، د روس له انحصار څخه د خلاصون لار یې پیدا کیږي او له سویلي آسیا سره یې د اقتصادي اړیکو له لارې د پراختیا مزل ګړندی کېږي.

پر اقتصادي برنامو د امریکا د تمرکز یو پیغام دا هم دی چې که څه هم امریکا ژمنه کړې چې له نظامي اړخه سیمه پرېږدي، واشنګټن حاضر نه دی چې په اوږدمهال کې له سیمې څخه ووځي.

دا چې امریکا په سیمه کې پراخې سیمه ییزې اقتصادي موخې لري، دغه هیواد ته اړینه ده چې خپل نرم ځواک د نظامي ځواک ځایناستی وګرځوي او له دې لارې خپلې سیمه ییزې موخې وپالي.

د امریکا دا تګلاره به د سیمې ځینې هېوادونه وارخطا کړي

روسیه، ایران او چین په سیمه کې د امریکا تګلاره په دقت سره څاري.

د اوس لپاره د زلمي خلیلزاد خبرې تر ډېره بریده د افغان سولې په اړانه کې د نویو ستراتیژیکو لیدلورو په اړه د بحث او فکر دروازې خلاصول دي.

ښايي نوموړی غواړي وګوري چې د دغه ډول بحثونو په اړه د مسکو او بیجنګ او تر یو بریده د تهران غبرګون به څه وي.

د افغان سولې په اړانه کې د اوږدمهاله اقتصادي ستراتیژیو را برسېره کول افغان سولې ته که له یوې خوا د برې نوی فرصت برابروي، نو له بلې خوا ورته جدي ننګونې هم زېږوي.

د واشنګټن په سیمه کې اقتصادي مانورونو که روسیه را پارولې ده، نو لرې به نه وي چې چین هم میدان ته را ودانګي او ایران هم اړ شي چې خپل محدود رول ولوبوي.

که دغه هیوادونه له افغان سولې سره د مرستې پر ځای د خپلو سیمه ییزو ګټو په تکل کې په تخریب باندې لاس پورې کړي، نو شونې ده چې افغان سوله له خطر سره مخ شي.

خو که چیرته امریکا وتوانیږي چې افغان سوله د سیمې د زبرځواکونو له منفي اغېز څخه لرې وساتي، نو نه یوازې دا چې د سولې روان بهیر به په بري سره پای ته ورسیږي؛ بلکې د افغانستان اوږدمهاله اقتصادي پراختیا به هم ورسره خوندي شي.

# افغان سوله او نړیواله اجماع؛

## پاکستان او چین: طالبان دې تاوتریخوالی کم او د باور فضا پیاوړې کړي



پرون او ورمه ورځ د سیمې له ځینو هېوادونو سره د افغان حکومت له لوري خبرې شوې دي. ورمه ورځ ولسمشر غني د سیمې له ګڼو هېوادونو سره د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې کړې دي. پرون بیا د افغان سولې په تړاو د پاکستان، افغانستان او چین درې اړخیزه غونډه شوې ده. په دې غونډه کې هم د سولې پر وروستیو پرمختګونو خبرې شوې او له طالبانو غوښتل شوي چې تاوتریخوالی کم کړي. بلخوا داسې راپورونه هم شته چې د زندانیانو د خلاصون پر سر نانندرۍ ښایي د دې سبب شي چې بین الافغاني خبرې وځنډېږي.

پرون د هېواد د بهرنیو چارو وزارت وویل چې پاکستان، چین او افغانستان پر افغان سوله درې اړخیزه غونډه کړې ده. دغه غونډه د ویډیو کنفرانس له لارې ترسره شوې ده او په هغه کې د درېواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونو چارواکو ګډون کړی دی. په دې غونډه کې پاکستان او چین ویلي چې دوی د افغانستان د سولې له روانو هڅو او بهیر سره هر اړخیزه مرسته کوي او دې ته لېواله دي چې دلته روانه جګړه د خبرو له لارې حل شي. دوی له طالبانو غوښتي چې ژر تر ژره دې تاوتریخوالی کم کړي او د بین الافغاني خبرو لپاره تیاری ونیسي.

د هېواد د بهرنیو چارو وزارت ویاند ګران هېواد له خبریالانو سره په خبرو کې ویلي چې په دې غونډه کې د طالب زندانیانو پر خلاصون، روان تاوتریخوالي او نورو مسایلو هم بحثونه شوي دي. درې واړو هېوادونو د سولې په لار کې پر شته خنډونو او حللارو هم خبرې کړې دي. د هېواد په وینا، چین او پاکستان ویلي چې په افغانستان کې له بشپړ اوربند ملاتړ کوي او ښه به وي چې د افغانانو دغه مهمې غوښتنې ته درناوی وشي. د ده په خبره: ((دواړو هېوادونو د تاوتریخوالي له کمښت، د بشرپاله اوربند له تامین او په بېړه د افغانانو ترمنځ د مذاکراتو له پیله ملاتړ وکړ)).

بلخوا ورمه ورځ هم ولسمشر غني د سیمې د هېوادونو له مشرانو او د بهرنیو چارو وزارتونو له چارواکو سره د ویډیویي کنفرانس له لارې پر افغان سوله خبرې کړې دي. د ده په خبره، افغان حکومت سولې ته ژمن دی، خو د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي دوام د دې سبب شوی چې د سولې هڅې له خنډ سره مخ شي. هغه خبرداری ورکړی چې که طالبان همداسې تاوتریخوالي ته ادامه ورکړي، نو د سولې بهیر ښایي زیانمن شي. په دې کنفرانس کې د سیمې هېوادونو له ولسمشر غني سره ژمنه کړې وه چې د سولې له بهیر ملاتړ کوي او پر طالبانو یې غږ کړی و چې تاوتریخوالی کم کړي او د سولې لپاره د باور فضا پیاوړې کړي.

له دې سره جوخت د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر محمود قریشي بیا وایي چې ځینې کسان د سولې په لار کې خنډ جوړوي او په وینا یې، ملګري ملتونه باید د دغه بهیر نظارت وکړي. هغه وایي، ملګري ملتونه باید هغه کسان او کړۍ وڅاري چې سولې ته خنډ جوړوي او اجازه نه ورکړي چې د سولې روان بهیر تر منزله ورسېږي. هغه په ښکاره د کوم هېواد یا مشخصو کړیو نوم نه دی اخیستی.

افغان حکومت بیا تمه لري چې د روانې میلادي میاشتې په اوږدو کې بین الافغاني خبرې پیل شي، خو سرچینې وایي چې طالبان د پنځه زره بندیانو تر خلاصون وروسته بین الافغاني خبرو ته تیار دي. تېره ورځ هم په رسنیو کې داسې راپورونه خپاره شول چې ښایي د زندانیانو د خلاصون پر سر د اختلاف له امله بین الافغاني خبرې وځنډېږي. د افغانستان د ملي امنیت شورا هم وایي چې د طالبانو څه باندې ۵۰۰ زندانیان ځکه نه خوشي کوي چې پر دوی حق العبد او د فساد، غلا او قتل په ګډون په نورو جرمونو تورن دي. امنیت شورا وایي، له طالبانو یې غوښتي چې د دې کسانو پر ځای د نورو کسانو نومونه ورکړي؛ ځکه د قوانینو له مخې، دغه کسان له زندان نه شي ازادېدلی.

د سولې په لار کې داسې مهال دغه ستونزې جوړېږي چې ټول نړیوال او ملي اړخونه د بین الافغاني خبرو د ژر پیلېدو غوښتونکي دي.

## انتوني فاوچي: په امریکا کې د کرونا ویروس له کبله رامنځته شوی وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی

د متحده ایالتونو د ساري ناروغیو د کنټرول مسوول انتوني فاوچي وایي چې په دغه هېواد کې د کرونا ویروس د خپرېدو له کبله راغلی حالت د جدي اندېښنې وړ دی.

په داسې حال کې چې په امریکا کې د مثبتو پېښو او په روغتونونو کې د ناروغانو د بستر کېدو شمېرې په چټکۍ سره زیاتېږي، فاوچي ویلي چې امریکا د کووېډ-۱۹ وبا په لومړۍ څپه کې تر زنګنو ډوبه شوې؛ ځکه د نوموړي په وینا، حکومت د اروپایي او ځینو اسیایي هېوادونو برعکس د دې وبا د کنټرول لپاره هېڅ جدي اقدام ونه کړ او اقتصادي کاروبار ته یې ډېر ژر د پیل اجازه ورکړه.

په ورته وخت کې د دغه هېواد ولسمشر ډونالډ ټرمپ کرونا کم ارزښته بللې او حتی په داسې حال کې چې په امریکا کې پر دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر له درې میلیونو اوښتی، ایالتونه یې د اقتصادي فعالیت پیلولو ته وهڅول.

د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې نږدې دوولسو میلیونو ته رسېدلې، دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۵۴۵ زره او ۳۳۰ کسان مړه شوي او نږدې اووه میلیونه یې بېرته رغېدلي دي.

د امریکا په متحد ایالتونو کې د کرونا مثبتې پېښې لا هم په چټکۍ سره د زیاتېدو په حال کې دي، په دغه هېواد کې له درې میلیونو زیات کسان په یاد ویروس اخته شوي او ۱۳۳ زره او ۸۲٦ کسان یې مړه کړي دي.

د راپورونو له مخې، په تېرو اوو ورځو کې په دغه هېواد کې هره ورځ شاوخوا پنځوس زره کسان په کرونا ویروس اخته شوي دي.

انتوني فوسي ویلي: «متحد ایالتونه تر اوسه د کرونا ویروس له لومړۍ څپې نه دي راوتلي، د اروپا او اسیا په ډول یې د دې اخیستونکې ناروغۍ جدي مخه نه ده نیولې، متحد ایالتونو خپل بازارونه بېرته ژر پرانیستل».

ولسمشر ټرمپ خلک په داسې وخت کې د بازارونو بېرته پرانیستو ته وهڅول چې مثبې پېښې درې میلیونو ته نژدې شوې او تلفات د جولای تر شپږمې یولک دېرش زرو ته ورسېدل. د متحد ایالتونو په سویل او لویدیځ کې د کرونا نوې پېښې زیاتې شوي دي او په نیویارک کې چې پخوا په کې حالت خراب و، وضعیت په ښه کېدو دی.


د متحد ایالتونو له پنځوسو ایالتونو په نهه دېرشو کې د کرونا د مثبتو پېښو ګراف په لوړېدو دی او په تېرو اوو ورځو کې په اوسطه کچه هره ورځ شاوخوا پنځوس زره کسان په کرونا ویروس اخته شوي دي چې دا د یوې میاشتې مخکې پېښو دوه برابره دي.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واګې په لاس کې واخله!
### دویم څپرکی




تر سیمینار وروسته به له ویناوالو سره کېناستم. د دوی زیاتو پیسو ګټلو ته به حیران شوم. دوی پیسې یوازې په تجارت نه ګټلې، بلکې له پانګونې څخه یې هم زیاتې پیسې ترلاسه کولې. ځینو د امریکایي شرکتونو تر رییسانو هم ډېرې ګټلې.

د ویناوالو یوه بل کار ډېر حیران کړی وم. هغه دا چې که څه هم دوی ډېر شتمن وو؛ خو بیا یې هم نورو ته د ښوونې او لاسنیوي لېوالیتا لرله.

لږ لږ متوجه شوم چې د شبکه یي بازارموندنې مشران د خلکو د لوړولو او پرمختګ هڅه کوي، په داسې حال کې چې پخواني او دولتي شرکتونه یوازې ځینې خلک لوړوي او ټاکلې میاشتنۍ تنخوا ورکوي. دغو ویناوالو په شبکه یي بازارموندنه کې دا نه ویل چې «که دې سم کار ونه کړ، دنده له لاسه ورکوې» بلکې دوی ویل «غواړم مرسته درسره وکړم، چې ورځ په ورځ غوره شې. تر کومه وخته چې د زده کړې تکل لرې، تر هغه دې په خدمت کې یم. موږ د یوه ټیم یا ډلې غړي یو.»

**ډېر ځانګړی مشر**

ډېر خلک د مشرۍ ځانګړتیاوې لري؛ خو تر اوسه نه دي ښکاره شوې. دوی ته هېڅ موقع په لاس نه ده ورغلې. زما شتمن پلار په دې پوهېده. د امریکا سمندري ځواکونو او د ویتنام جنګونو ته زما د لېږلو یو دلیل همدا و چې ده غوښتل زما د مشرۍ مهارتونه پیاوړي شي.
خو د دې لپاره چې د مشرۍ مهارتونه مو وغوړېږي، په سمندري ځواکو یا د ویتنام په جنګ کې ګډون کول حتمي نه دي. دا موقع په شبکه یي بازارموندنه کې موندلای شئ. د شبکه یي بازار موندنې د مشرۍ په زده کړه کې یوازې مشري نه زده کوئ، بلکې د مشرۍ یو ځانګړی ډول درپکې پیدا کېږي.
شبکه یي بازارموندنه د داسې مشر د جوړولو هڅه کوي چې درس او لارښوونې یې پر نورو هم اغېز وکړي او هغوی ته په ښوونه د نورو خلکو موخو ته رسولو له لارې خپلې موخې هم ترلاسه کړي.
پوځ داسې مشر جوړوي چې نارینه او ښځې د خپل هیواد دفاع ته وهڅوي.
د تجارت نړۍ بیا داسې مشر جوړوي چې د نورو شرکتونو د ماتولو لپاره تکړه ډلې رامنځته کړي.
خو شبکه یي بازارموندنه د داسې مشر د جوړولو هڅه کوي چې درس او لارښوونې یې پر نورو هم اغېز وکړي او هغوی ته په ښوونه د نورو خلکو موخو ته رسولو له لارې خپلې موخې هم ترلاسه کړي.
د شبکه یي بازارموندنې زیاتره مشران کوښښ کوي چې د دښمن یا سیال د ماتولو پر ځای خلکو ته داسې درس او الهام ورکړي چې د مالي توان د موندلو په وخت نورو ته زیان او تکلیف ونه رسوي.
د مشرۍ کوم ارزښتونه چې په شبکه یي بازار موندنه کې غښتلي کېږي، بې ساري دي. هو، دا سمه ده چې له پوځ څخه نیولې تر دولت او شخصي شرکتونو هر یو مشران روزي او جوړوي. خو په شبکه یي بازارموندنه کې چې کوم واقعي مشران جوړېږي، په نورو کې دومره نه لیدل کېږي. «جان» په دې اړه د ویلو جالب څه لري.
جان: د سل سلنه رضا کارو خلکو یوځای کېدل د شبکه یي بازارموندنې په اړه بې ساری څیز دی. ان یو توزیع کوونکی هم کار ته د تګ راتګ لپاره وخت نه ټاکي. کوم خپلواک استازی نه څوک په کار ګومارلی او نه لرې کولای شي. هېڅوک هم تاسو ته نشي ویلای چې دا کار وکړه. څوک امر نشي دربانډې کولای.
که هرڅه داسې دي، نو بیا ولې دا تجارت بریالی دی؟ داسې څه شته چې هرڅه ته حرکت ورکوي؟ ځواب یوه کلیمه ده او هغه «رښتینې مشري» ده.
د شبکه یي بازارموندنې مشري ستاسو د ژوند په هر ځای کې ځان را ښکاره کوي او مرسته مو کوي.


**د مشرۍ څلور اړین توکي**

په ښوونځي کې یوازې ښه کارکوونکی اوسېدل در ښودل کېدل. هغوی یوازې پر یوه شي تمرکز کاوه چې هغه ستا ذهني وړتیا وه. که مو ښې معادلې حلولای او په امتحان کې مو ښې نومرې اخیستلای، نو د یوې ادارې د مشرۍ لپاره غوره ګڼل کېدئ.
دا د خندا خبره ده.
دا چې زه نن یو بریالی متشبث یم، یو دلیل یې د امریکا په سمندري ځواکونو کې زده کړه کول دي. نظامي زده کړه له تاسو څخه ښه مشر جوړوي. هغه مشر نه چې یوازې ذهني وړتیا لري، بلکې هغه مشر چې د ذهني وړتیا تر څنګ احساساتي، بدني او روحي وړتیا هم لري. دوی در ښيي چې څنګه تر سختو فشارونو لاندې ښه پرېکړه وکړئ.
په ویتنام کې مې د څرخي الوتکې د پرواز زده کړه درلودله؛ خو له روحي وړتیا پرته مې نشوی کولای چې الوتکه هوا ته پورته کړم. که مې دغه وړتیا نه لرلای، نو وېرې او احساساتو به غلبه رابانډې کوله او له بدني اړخه به مې د جنګي الوتکې د پرواز کنټرو له لاسه ورکړی وای. د دغه څلورو عناصرو (ذهني، احساساتي، بدني او روحي وړتیا) په لرلو سره د دغه اړین ماموریت په ترسرولو بریالی شوم.
**دوام لري...**

# مه ویرېږه

◀ اکسوس کتابپلورنځی

د نامتو امریکایي ارواپوهې سوزان جیفرز دغه کتاب «مه وېرېږه» یو نړیوال شهکار دی، چې د نړۍ په سلو هېوادونو کې تر دریو میلیونو زیات، تر دېرشو په ډېرو ژبو خپور شوی او دا دی په دې وروستیو کې د باسط واحدي له لوري هم په پښتو شو.
سوزان جیفرز د امریکایي ارواپوهانو په لیکه کې یوه نامتو او خواریکښه ارواپوهه ګڼل کېږي، چې تر اوسه یې ۱۸ کتابونه لیکلي. لومړنی کتاب یې د «وېرې احساس» و چې وروسته بیا په یوه نړیواله پدیده واوښت. سوزان په ۷۴ کلنۍ په کلیفرنیا کې په خپل کور کې ومړه چې د خاوند په خبره یې، د سرطان ناروغي یې درلوده.
دغه کتاب څلور سریزې، سل صفحې او لس فصلونه لري. د وېرې، غوسې او شک په خواک؛ د عمل او مینې د بدلون حلالاري بیانوي. مونږ هر یو نر، ښځه، ځوان، زوړ، غریب او خان وېرېږو، خو دغه ستونزه مو په ماشومانو او ځوانانو کې تر نورو ډېره ده، مونږ ته له کوچنیوالي د پام کوه! پام کوه! کلمو قدم اخیستل ګران کړي دي. عجیبه به درته ښکاره شي، خو د نړۍ په هیڅ ګوټ کې میندې او پلرونه ماشومان نه وهي، خو زمونږ په افغاني ټولنه کې یوه عادي خبره ده. له کوچنیتوبه یې په وهلو او رټلو رالویه وي، دغه کړنې د کوچنیانو فکري قوه ضعیفه، وېره یې ډېره او په اوږدمهال کې یې ژوند له ستونزو سره مخ کوي، چې کله ځوانۍ ته ورسېږي، د پرېکړو په نیولو، مثبت فکر، مسوولیت منلو او اولویت ټاکلو کې ستونزې لري، ځان ورته یو بې ځواکه کس ښکاري او هر څه ته له منفي زاویې ګوري.
د کتاب په اړه نامتو لیکوال جک کانفلیډ وایي: «هر هغه څوک چې په لوست پوهېږي، زه د دې کتاب د لوستو سپارښتنه ورته کوم.» رښتیا هم همدومره ګټور دی، ځکه تاسو ته درښیي چې ولې مونږ وېرېږو؟
د کتاب هر څپرکی د وېرې په اړه ډول ډول تاکتیکونه بیانوي، لیکواله د څېړنو پر بنیاد کاږي چې «نوي سلنه هغه څه چې مونږ یې په اړه اندیښنه کوو، نه واقع کېږي. په دې مانا چې زمونږ منفي فکرونه یوازې لس سلنه د صحیح والي چانس لري، ښه که اوس له تاسو وپوښتل شي چې مثبت فکر به ډېر عقلي وي او که منفي؟ حتماً به مو ځواب مثبت فکر وي. د خپل ژوند په اړه فکر وکړئ، زه باوري یم ډېر هغه څه چې تاسو یې په اړه اندېښنه کوله، هیڅ نه دي واقع شوي. همدارنګه دغه کتاب د وېرې په اړه وایي چې یوازینۍ لاره چې وېره ختموي او د ځان په اړه مو ډاډمن احساس پیاوړی کوي، دا ده چې تر هرڅه مخکې بیرون ته لاړ شئ او لومړی هماغه کار تر سر کړئ چې تاسې ترې وېرېږئ. ځکه دا مو د وېرې ختمېدو تر څنګ په ځان باور زیاتوي. باید په یاد ولرو چې له هغو نویو کارونو چې مونږ یې له سرته رسولو وېرېږو، همدا اوس داسې یو څوک شته چې دغه کار تر سره کوي، نو وېره ستونزه نه ده. که وای هغه کس ولې دا کار تر سره کوي.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار په نورو لویو کتابپلورنځیو کې هم په مناسب قیمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د جراحي اساسات | سم انډریوز، لوک کسکزیني/حسین احمد ثاقب | ۲۵۰ ؋ |
| ۲ | تحقیقي‌ژورنالیزم | سید نایل ابراهیمي/محمد اکبر نیازی | ۲۰۰ ؋ |
| ۳ | د څېړنې میتود | میرمحمد ظاهر حیدري، میرمحمد فاروق حیدري/لعل الدین عاطف | ۲۷۰ ؋ |
| ٤ | کرنیز اقتصاد | محمد بخشوده، احمد اکبري/لعل الدین عاطف | ۲۷۰ ؋ |
| ٥ | عمومي افکار | وینسنټ پرایس/اسماعیل اشنا | ۱۸۰ ؋ |
| ٦ | بازار موندنه | برایان ټریسي/اسماعیل اشنا | ۱٥۰ ؋ |
| ۷ | د واکمنۍ هنر | اندري ډي ګویالومي/لعل الدین عاطف | ۱۳۰ ؋ |
| ۸ | د ځان جوړونې هنر | نارمن ونسټ پیلي/اسدالله خان امرخېل | ۱٥۰ ؋ |
| ۹ | مالي محاسبه | محمد نعیم عظیمي/سیف الرحمن | ۲۸۰ ؋ |
| ۱۰ | How to own your own mind | Napoleon Hill | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۱ | Speak | Laurie Halse Anderson | ۳۲۰ ؋ |
| ۱۲ | Zerolimits | Joe Vitale | ۱۸۰ ؋ |
| ۱۳ | The Power Positive No | William Ury | ۲۰۰ ؋ |
| ۱٤ | Men Are From Mars, Women Are From Venus | John Gray | ۲۲۰ ؋ |
| ۱٥ | THE BOOK THIEF | Markus Zusak | ۳٥۰ ؋ |
| ۱٦ | The Giver of Stars | Jojo Moyes | ۳۷۰ ؋ |
| ۱۷ | The Bezos Letters | Steve Anderson | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۸ | Defy Me | Tahereh Mafi | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۹ | Every Thing is Fucked | Mark Manson | ۱۸۰ ؋ |
| ۲۰ | Blue Lily, Lily Blue | Maggie Stiffvater | ۳۷۰ ؋ |
| ۲۱ | تاریخ روابط خارجی افغانستان | سلطان شاه صفاری/استاد امان الله امانی | ۳۰۰ ؋ |
| ۲۲ | د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ | سلطان شاه صفاري | ۲٥۰ ؋ |
| ۲۳ | جنگ ناتمام در افغانستان | ویشال چاندرا/محمد امید | ۱٥۰ ؋ |
| ۲٤ | حقوق مهاجرت | سپیده غفاری نمین | ۲٥۰ ؋ |
| ۲٥ | جیولوجی عمومی (قوای داخلی زمین) | فضل مولا روفی | ۳٥۰ ؋ |
| ۲٦ | ځان وپېژنئ او مه ساده کېږئ! | محمود نامي/حسیب الله حکیمزی | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۷ | دوره ی دو جلدی راهنمای جامع گرامر تخصصی آلمانی | جسنعلی وحید مهر | ۸٥۰ ؋ |
| ۲۸ | سازمان جهانی پلیس جنایی (اینترپل) | مصطفی تقی زاده انصاری | ۱٥۰ ؋ |
| ۲۹ | راهنمای حقوق بین الملل محیط زیست | الکساندر کیس دینا شلتون/محمد سعید شفیعی | ۲۲۰ ؋ |
| ۳۰ | حقوق بشر امنیت فرهنگی تحت چالش ماهواره | عسکر جلالیان | ۱۸۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**
پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانی

# کابل ښار او د زلزلو ګواښ!

**لیکنه: د کابل پولي تخنیک پوهنتون استاد- پوهنیار سکندر ځدراڼ - ژباړه: حمیدالله حمیدي**



دوې میاشتې وړاندې (۲۸/۰۲/۱۳۹۹) د کابل په وخت په ۱۲:۵٦ دقیقو کابل ښار یوې نسبتاً زوروري زلزلې ولړزاوه. د زلزلې دغه ټکانونه په نورو نږدې سیمو کې هم احساس شول. د اروپا او مدیترانې د زلزلې اندازه کولو مرکز (EMSC) د معلوماتو له مخې، دغه زلزله د کابل ولایت اړوند د پغمان د جنوبي برخې په ۱۴ کیلومترۍ کې او د میدان ښار په شمال شرق کې د لس کیلومتره په ژوروالي وشوه. د دې زلزلې شدت د ریختر په کچه ۴،۳ او له دې زلزلې څخه آزاده شوې انرژي بیا ۴۲،۵ ton ترای نیتروتولویین (TNT) تخمین شوې وه. دغه زلزله د خطر هغه زنګ ښودل شوی دی، چې د پغمان اړوند د زلزلې خط (د ځمکې ماتېدل) فعالوي. د پغمان زلزلوي خط د چمن د زلزلوي خط دوام بلل شوی دی. د چمن زلزلوي خط (Chaman Fault)، چې ۱۰۰۰ کیلومتره اوږدوالی لري، د هندوکش له شمال شرق څخه د هېواد د جنوب او جنوب- لوېدیځ په خوا بیا تر پاکستان پورې غځېږي.


ورمه شپه هم کابل ښار یوې درنې زلزلې ولړزاوه. د زلزلې پېژندنې نړیوالې ادارې د دې زلزلې مرکز د کابل ښار پغمان ولسوالي ښودلی، چې په خبره یې شدت یې د ریختر په کچه څلور اعشاریه شپږ درجې و. په همدې شپه درې ځله نور هم په کابل ښار کې د زلزلې ټکانونه حس شول.

په ۱۵۰۵ میلادي کال د بابر شاه د سلطنت پر مهال کابل ته یوې ډېرې درنې زلزلې ټکانونه ورکړل، چې شدت یې د ریختر په کچه ۷،۳ درجې ښودل شوی و. د هغه زلزلې مرکز هم پغمان و. ویل کېږي چې په هغه وخت کې په یوه ورځ څلوېښت ځله کابل ښار زلزلې ولړزاوه او بیا تر یوې میاشتې نور ټکانونه هم احساسېدل. د دې زلزلې له کبله ډېر کابل ښاریان مړه شول، ځمکې درځونه وکړل او د ښار په څو ځایونو کې اوبه را ووتې.

سره له دې چې د چمن د زلزلوي خطونو سیستم (Chaman Fault System) په اړه ډېرې څېړنې نه دي شوې او لا تر اوسه هم په دې برخه کې کافي معلومات نشته، خو تاریخي شواهدو ته په کتو ویلای شو، چې له دې زلزلوي خطونو څخه کابل او هغو ولایتونو ته چې په دې خط پراته دي، ډېر لوی او بالقوه ګواښ متوجه دی.

په دې هیله چې په دې برخه کې ډېرې څېړنې وشي او اړونده ادارې په نویو جوړېدونکو ودانیو کې د ټولو هغو معیارونو پر مراعتولو څار وکړي، چې د زلزلې پر وړاندې د ودانیو مقاومت ډېروي او تر څنګ یې په دې برخه کې عملي ګامونه واخلي.

## راپورونه: افغانستان به د اورګاډي له لارې له چابهار بندر سره ونښلول شي



د راپورونو له مخې، ایران غواړي د اورګاډي د پټلۍ له لارې چابهار بندر له افغانستان سره ونښلوي.

د ایران د ښار جوړونې مرستیال وزیر خیرالله خادمي د دغې لارې د پروژې د افتتاح پر مهال ویلي چې دا لاره به د ایران د چابهار بندر له لارې افغانستان او بیا منځنۍ اسیا سره ونښلوي.

د ایران حکومت وایي، د اورګاډي دا پټلۍ ټولټال ٦۲۸ کیلو متره ده چې د چابهار-زاهدان-بیرجند-مشهد څخه به راتېرېږي. د ایران دولتي اژانس ایرنا د خادمي له خولې لیکلي چې دا د سیمې د ترانزیت او تجارت د پراختیا لپاره یو ښه پیل دی. هغه ویلي چې دا د ایران د اورګاډي د پټلۍ یوه تر ټولو اوږده پروژه ده چې په خبره یې، د اقتصادي بندیزونو سره-سره به پلې شي.

هغه وویل چې د دغې پروژې د۱۵۰ کیلومتره پټلۍ د غځولو کار به د روان هجري شمسي کال تر پای پورې ختم شي.

نوموړي وویل چې په دې لارې به مسافر وړونکي اوګاډي په ساعت کې ۱٦۰ کیلو متره او بار وړونکي اورګاډي به ۱۲۰ کیلو متره واټن ووهي.

د ایران د ښار جوړونې وزارت ویلي، چې د دغې پروژې له لارې به د ایران، افغانستان او هند ترمنځ درې اړخیزه راکړه ورکړه او معاملات نور هم غښتلي کړي.

افغانستان چې تر ډېره د پاکستان له لارې تجارت کاوه، په ۲۰۱٦ ز کالکې یې له هند او ایران سره تړون لاسلیک کړ چې د چابهار بندر له لارې تجارت او سوداګري وکړي.

پر دې سربېره افغانستان د منځنۍ اسیا له یو شمېر هېوادونو سره هم ځیني تجارتي لارې پرانیستلې او همدغه راز له یو شمېر نورو هېوادونو سره یې هوایي دهلیزونه هم خلاص کړل چې پر پاکستان یې تجارتي تکیه کمه شي.

## عامې روغتیا وزارت: په ټول هېواد کې د کرونا ویروس د مړو شمېر ۹۲۰ تنو ته ورسېد



عامې روغتیا وزارت تېره ورځ اعلان وکړ چې په تېرو ۲٤ ساعتونو کې د کووېډ ۱۹ په ناروغۍ ۱۹٤ تنه اخته شوي دي.

د دغه وزارت په تازه راپور کې راغلي چې په یاده موده کې ۲۲تنه مړه شوي هم دي. عامې روغتیا وزارت وایي، چې په تېرو څو میاشتو کې د کووېډ۱۹ تر ټولو کمې پېښې ثبت کړې.

د دغه وزارت په تازه راپور کې راغلي چې په ورمه یوه شپه او ورځ کې یې د کووېډ ۱۹ ناروغۍ ۱۹٤ مثبتې پېښې ثبت کړې او ۲۲ کسان یې له امله مړه شوي، چې له دې سره په دغې ناروغۍ د مړو شمېره ۹۲۰ تنو ته پورته شوه.

د دغه وزارت په راپور کې راغلي، چې په ټول افغانستان کې تراوسه په کووېډ۱۹ناروغۍ ۳۳۳۸۴ تنه اخته شوي او ۲۰۱۵۱ کسان ترې رغېدلي دي.

بلخوا په افغانستان کې یو شمېر هغه کسان، چې د کووېډ ۱۹ ناروغۍ یې تېره کړې، وایي چې دوامدار ټوخی لري. دوی وایي، له دې سربېره تبه، سردردي، د کمزورۍ احساس، د پوزې بهېدل، هغه څه دي چې ورته کړېږي.

افغان روغتیاپالان وایي، د روغتیا نړیوال سازمان د وروستیو څېړنو له مخې، کله چې کووېډ ۱۹ باندې انسان مبتلا شي، نو په ۷ ورځو کې د ناروغ په بدن کې انتي باډي جوړېږي او بیا ۱۴ ورځې وروسته ناروغۍ له دې ناروغۍ ښه کېږي.

د څېړنو له مخې، په کووېډ ۱۹ اخته ناروغان چې شکر، د زړه ناروغۍ، سرطان او نورې مرګوني ناروغۍ ولري، د هغوی په وجود کې تر ډېره انتي باډي په سختۍ جوړېږي.

په ورته وخت کې د کابل په الحیات روغتون کې د داخله ناروغیو متخصص ډاکټر محبوب الله شفق ازادي راډیو ته ویلي، کووېډ۱۹ ناروغۍ په انسانانو کې په بېلا بېل ډول را څرګندېږي او بیا ختمېږي.

هغه زیاتوي: «د ډبلیو ایچ او په تازه څېړنه کې راغلي، د کووېډ ۱۹ ناروغۍ ببرته راګرځي، هغه څوک چې له رغېدو وروسته هم د کووېډ ۱۹ اعلایم لري، د هغه په وجود کې یا انتي باډي نه وي جوړه شوې یا یې هم وجود کمزوری وي او یا دا چې نورې ناوړې ناروغۍ(شکر، سرطان، د زړه ناروغۍ) یا نور وژونکي ناروغۍ لري.»

شفق زیاتوي چې د څېړنو له مخې، ممکن د دې ناروغانو ټوخی ان دوه میاشتې دوام وکړي، خو تر عمره نه پاتې کېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷،۱۰ |
| € | ۸۵،۷۰ |
| Rp. | ٤٦٤ |
| ₹ | ۹۹۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۳،۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

WAYGAL PRINTING CO

if You Can Think it, we Can ink it.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696

Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

waygalprinting.co

waygalprinting.co@gmail.com



چهارشنبه د ۱۳۹۹ د چنګاښ ۱۸مه | د ۲۰۲۰ د جولای اتمه | ۵٦٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۲ | ۳٦ | ٤۰ | ۳۹ | ٤۰ | ۳٤ |
| ۲۰ | ۱۹ | ۱۹ | ۲٦ | ۲۸ | ۲٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۰۵ | لمر ختل ۰٤:٤۷ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۱۰ | ماخوستن ۰۸:۵٤

## نړۍ




## دانش: در تهیه نامه مرکز خبرنگاران به رئیس جمهور، دقت نشده است



معاون دوم رئیس جمهور می گوید در تهیه نامه مرکز خبرنگاران به رئیس جمهور، دقت نشده است، زیرا بعداً از ایجاد کمیته مشترک حکومت و رسانه‌ها، تمام قضایای خشونت علیه خبرنگاران بررسی شده است.

مرکز خبرنگاران افغانستان به تاریخ ۱۱ سرطان در یک نامه سرگشاده به رئیس جمهور که در آن ۲۰۰ خبرنگار امضا کرده بودند،گفتند که در حدود دو دهه اخیر بیش از یک هزار قضیه خشونت و تهدید علیه خبرنگاران، شامل ۱۱۵ موردی که منجر به مرگ خبرنگاران و کارمندان رسانه‌ای شده،در کشور رخ داده است که سه مورد آن در سال جاری بوده است، اما به تعداد محدود این قضایا رسیدگی شده است.

در خبرنامه دفتر معاون دوم رئیس جمهور آمده است که جلسه فوق العاده کمیته مشترک حکومت و رسانه‌ها به ریاست سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری و رئیس این کمیته که امروز برگزار شد، محتوای نامه یادشده خبرنگاران در مورد پایان دادن به معافیت از مجازات جرایم علیه خبرنگاران، مورد بررسی قرار گرفت.

منبع نوشته است که در این جلسه، اشتراک کنندگان نظرات شان را در مورد محتوای این نامه و ادعای عدم رسیدگی به قضایای خشونت علیه خبرنگاران مطرح کردند و نهادهای عدلی و قضایی کشور نیز گزارش‌های شان را در مورد رسیدگی به قضایایی خشونت علیه خبرنگاران ارائه نمودند.

سرور دانش معاون دوم رئیس جمهور درحالیکه گفته است حکومت افغانستان از نامه خبرنگاران به رئیس جمهور استقبال می‌کند، خاطر نشان کرده است که آزادی بیان و آزادی رسانه‌ها همچنان از تعهدات اساسی حکومت افغانستان است و دراین مورد هیچ‌گونه شک و تردیدی وجود ندارد.

## بریټانیا: اسراییل دې د فلسطیني خاورې له الحاق څخه تېر شي

د بریټانیا لومړي وزیر بوریس جانسون یو ځل بیا د اسراییل له لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو څخه غوښتنه کړې ده چې د فلسطین د لوېدیځې غاړې له الحاق دې لاس واخلي.

نوموړي زیاته کړې، د دوستۍ پر بنسټ پر اسراییل غږ کوي چې د فلسطیني خاورې الحاق یې په خیر نه دی، نو باید ترې تېر شي. جانسون د خپلو خبرو پر دوام ویلي، دا چاره به له فلسطین سره د تفاهم امکان لا کم کړي. د یادونې ده چې جانسون یو ځل مخکې هم له اسراییل نه ورته غوښتنه کړې وه، خو نتانیاهو ویلي وو چې دوی چمتو دي د امریکا د پېړۍ معاملې تر عنوان لاندې طرحې پر بنسټ له فلسطین سره خبرو ته کېني.

دا په داسې حال کې ده چې اسراییل لاهم د ټولو نړیوالو اصولو خلاف د فلسطینیانو ځمکې غصبوي او په زوره پکې د یهودانو لپاره مېشت ځایونه جوړوي. تر بریټانیا مخکې عرب اتحادیې هم خبرداری ورکړی و چې فلسطین د دوی لپاره ډېر ارزښت لري او دغه هېواد به د اسراییلو تېري ته یوازې پرې نه ږدي.

## حفتر: په لیبیا کې د ترکیې مداخلې د سیمې ثبات له ګواښ سره مخ کړی دی



د ختیځې لیبیا د ځواکونو مشر خلیفه حفتر خبرداری ورکړی چې په دغه هېواد کې د ترکیې مداخلې، د لیبیا په ګډون سیمه له ګواښ سره مخ کړې ده.

د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، حفتر خبرداری ورکړی چې که ترکیه پر اوسنۍ پرېکړې له سره غور ونه کړي او له دغه هېواده خپل پوځیان ونه باسي، ناوړه پایلې به ولري.

نوموړي دغه راز زیاته کړې چې هېچا ته به د دې اجازه ورنه کړي چې په پردیو وسلو د لیبیایي وګړو وینې وبهوي. د هغه په خبره: «ترکیه په ناقانونه توګه هڅه کوي، چې زموږ شتمنیو ته لار پیدا کړي، خو موږ به په ټول توان سره د دغه کار مخه ونیسو».

دا په داسې حال کې ده چې لیبیا له ۲۰۱۱ ز کال راوروسته، کله چې د وخت واکمن معمرالاقذافي ووژل شو، په لیبیا کې وضعیت ډېر ترینګلی شوی او د مرکزي او پیاوړي حکومت د نه شتون له کبله د هېواد سیاسي ثبات له ګډوډیو سره مخ دی. دا هېواد اوسمهال د دوو موازي ډلو له لوري رهبري کېږي. د فایز السراج په مشرۍ د ملي یووالي حکومت پر طرابلس او شاوخوا سیمو کې واک لري او د ملګرو ملتونو له خوا په رسمیت هم پېژندل شوی. د دغه هېواد ډېرې نورې برخې بیا د خلیفه حفتر تر واک لاندې دي چې د ملي یووالي له حکومت سره په نښتو بوخت دی.


## ژوند

## رومي بانجان او ګټې یې



د سرو بانجانو تر ټولو ښه ځانګړنه دا ده چې په څو ډوله ترې ګټه اخیستل کېږي او خوړل کېږي. د بېلګې په توګه، خام یې خوړلای شي، په سلاد کې ګټه ترې اخیستل کېږي، کباب کېږي او دغه راز کولای شي چې خوندور سوپ هم ترې جوړ کړي. رومي بانجان له معدني موادو او ویټامینونو مالامال دي چې په ورځني ډول یې کارول د پوست په قوت او ښایست کې مرسته کوي. سره بانجان چې ښومره ښکلي دي، په هماغه اندازه ستاسو د پوست په ښایست کې هم مرسته کوي. په مخ او یا لاسونو باندې موښل یې د پوست د ښکلا لامل ګرځي. اطراحي او هاضمي سیستم له پوست سره نېغ په نېغه اړیکه لري، تاسو به هم تجربه کړې وي، کله مو چې په هاضمه او اطراحیه سیستم کې ستونزه پیدا کېږي، د بدن پوست به مو هم سپېره او وچ وي.

## موبایل مو ژر چارج خلاصوي؟



اوس ځیرک موبایل د ژوند یوه اړینه برخه ګرځېدلې او هر څوک په ورځني ډول په ځیرکو موبایلونو کې د ټولنیزو رسنیو په ښارلو، وټس‌اپ او یا هم د نورو کاریالونو له لارې له خپلو کورنیو او ملګرو سره د اړیکې په نیولو او په انټرنټ کې په سلهاوو نورو فعالیتونو باندې وخت تېروي. ټول دغه فعالیتونه د ځیرک موبایلو مخ‌پاڼه، پروسېسر، سېګنلونه او ډېرې نورې برخې فعالوي چې په چټکۍ سره د ځیرک موبایل د چارج خلاصېدو لامل ګرځي. ځینې هغه فعالیتونه چې ډېر ژر د ځیرک موبایل چارج خلاصوي په لاندې ډول دي: د خپل ځیرک موبایل د مخ‌پاڼې رڼا په اعظمي حد کې ساتل، د ټولو کاریالونو لپاره د خبرتیا اسانتیا فعالول، تل له وای فای سره خپل ځیرک موبایل وصل ساتل، هغه کاریالونه چې تر بندولو وروسته هم فعاله وي او د هارډوېیر ستونزې. اکثره دغه ستونزې په اسانۍ سره اوارېدلی شي او ځانګړې تخنیکي پوهې او معلوماتو ته اړتیا نه لري. ډېر داسې کاریالونه شته چې تر بندولو وروسته هم فعاله وي او په لوړه کچه چارج مصرفوي.




ماسټر ډېبټ کارت

د عزیزي بانک ماسټر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک Azizi Bank